# د يو مسلمان پر بل مسلمان پنځه حقونه دي: سلام ته ځواب ويیل، د ناروغ پوښتنه كول، د جنازې پسې تلل، بلنه منل، او د پرنجي پر مهال ورته (يرحمک الله) ويیل

له ابوهريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه اورېدلي دي چې ويل يې: "د يو مسلمان پر بل مسلمان پنځه حقونه دي: سلام ته ځواب ويیل، د ناروغ پوښتنه كول، د جنازې پسې تلل، بلنه منل، او د پرنجي پر مهال ورته (يرحمک الله) ويیل".
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو مسلمان په خپل مسلمان ورور باندې ځينې حقونه بيان كړي دي. له دغو حقونو څخه يې لومړی دا دی چې سلام ور وګرځوې چا ته چې سلام درته واچوي. دويم حق: د مريض پوښتنه كول او زيارت ته يې ورتلل. دريم حق: جنازې پسې يې له كوره تر هديرې پورې تلل تر دې چې دفن شي. څلورم حق: د بلنې منل كله چې بلنه وركړي لكه د واده وليمې او يا داسې نورو ته. پنځم حق: پرنجي كوونكي ته ځواب ويیل: داسې چې هغه كله د پرنجې پر مهال الحمد لله ووايي نو ورته ووايي چې: يرحمک الله (الله دې پر تا رحم وكړي) بيا به پرنجی (كوونكی ووايي: يهديكم الله و يصلح بالكم (الله تعالى دې تاسو ته هدايت وكړي او ستاسو حال دې سم كړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3706